عبدالغفور لیوال

۲۰۲۰/۰۳/۳۱

# تر کرونا روسته...

## پنځمه برخه

اوس نو ښايي د بشريت هر هوښيار وګړی پر دغه ټولنپوهنيز- ساينتيفيک اصل باوري شوی وي، چې:

ترڅو ټولنه هوساشوې نه وي، وګړی(فرد) هوسا کېدلای نه شي!

روغتون، دارو، اوبه ،خواړه ، پاک چاپېريال، کار، توليد او بشري حقونه د ټولنې د هروګړي لپاره! کرونا نه مستبدو حکومتونو، نه ګواښمنو پوځونو، نه هسکو دنګو کليساګانو، نه سترو کمپنيو او پانګوالو او نه هم ان پياوړيو ساينسي بنسټونو مهارکړای شوه.

يوازې هغو هېوادونو يې زيان اړونه راکمه کړای شوه، چې د ټولو وګړيو لپاره يې مساويانه پياوړي ټولنيز خدمات برابر کړي ول.

راتلونکی بشريت بايد برابره ټولنيزه هوساينه او د ايکولوژي ژغورنې ته لومړيتوب ورکړي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ